# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

قــوه قضائیه


د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کيده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳


د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

سه شنبه ۵ مرغومی ۱۴۰۲ هـ ش | ۱۲ جمادی الثانیه ۱۴۴۵ هـ ق | ۲۶ دسمبر ۲۰۲۳ م | مسلسله شمېره (۵۲)


## د سترې محکمې د عالي شورا د ۱۴۴۵ هـ ق کال ۱۲ مه غونډه ترسره شوه

چهارشنبې په ورځ (۲۹/جمادلأولی/۱۴۴۵ هـ ق) نېټه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د ۱۴۴۵ هـ ق کال ۱۲ مه غونډه ترسره شوه.

د سترې محکمې د عالي شورا په دې ناسته کې چې د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په مشرۍ جوړه شوې وه د عالي شورا غړو محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب، محترم شیخ خیرجان (خیرخواه) صاحب، محترم شیخ محمد شریف (حقاني) صاحب او محترم مفتي عبدالرشید (سعید) صاحب ګډون درلود.

د عالي شورا په دې ناسته کې د غونډې په اجنډا کې د شاملو یوولسو (۱۱) مهمو موضوعاتو په اړه تر تفصیلي خبرو وروسته د یادو موضوعاتو اړوند فیصلې صادرې شوې.

د سترې محکمې د عالي شورا یاده ناسته د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات د فراه ولایت د علماوو شورا له رئیس او غړو سره وکتل

د دوشنبې په ورځ (۴/۶/۱۴۴۵) نېټه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب د فراه ولایت د علماوو شورا له غړو سره وکتل.

په دغه لیدنه کې چې د سترې محکمې په مقام کې ترسره شوه د قضائیه قوې د امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي رئیس محترم الحاج مولوي محمد عوض (سعید) او د سترې محکمې د مقام د دفتر عمومي رئیس محترم مولوي عبدالوکیل (حقاني) هم ګډون درلود، په یو شمېر مهمو مواردو خبرې وشوې.

د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب د فراه د علماوو شورا رئیس او غړو ته په خطاب کې وویل، ستاسو ریاست ډېر مهم ریاست دی؛ ځکه په دغه ریاست کې د ولایت په کچه مخور او مهم علماء او شیوخ کرام راټول شوي دي.

محترم شیخ صاحب زیاته کړه، هڅه وکړئ چې په خپل ولایت کې د امارتي ادارو ترمنځ همغږي لا نوره هم زیاته کړئ، ځکه په یووالي او همغږۍ سره ټول کارونه په ښه ډول او ټاکلي وخت ترسره کېدای شي.

د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات د فراه د علماوو شورا غړو ته سپارښتنه وکړه، کوم کارونه چې سخت وي او په محاکمو کې ډېر وخت نیسي، تاسو یې د اړوند محکمې سره په همغږۍ او همکارۍ ترسره کوئ.

محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب زیاته کړه، په خپل ولایت کې پر عامو علماوو په ځانګړې توګه د جهادي مدرسې پر علماوو پوښتنه کوئ او د دوی په احوالو ځان خبروئ، ځکه افغانستان کې د اسلامي نظام د حاکمیت برخه کې د علماوو او طلباوو رول ډېر زیات وو.

د فراه د علماوو شورا رئیس وویل، موږ د ټولو امارتي ادارو اصول او طرزالعملونه کتلي دي او د یادو ادارو د اصولو مطابق په هره برخه کې له دوی سره همکاري کوو او له ټولو امارتي ادارو سره یې د هر ډول اصولي همکارۍ ژمنه وکړه.

ناسته د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې د عامه امنیت دیوان د عمومي رئیس په مشرۍ یو پلاوي خوست ولایت ته سفر وکړ

د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د جمادي الاولی میاشتې په ۲۷مه نېټه یو پلاوي چې مشري یې د سترې محکمې د عامه امنیت دیوان رئیس شیخ جلال الدین (حقاني) صاحب کوله خوست ولایت ته سفر وکړ.

شیخ جلال الدین حقاني صاحب د یاد سفر په ترڅ کې د خوست ولایت د مرکزي محبس له بندیانو څخه لیدنه وکړه، چې د یادې لیدنې پر مهال یې د خوست ولایت د مرافعه محکمې رئیس الحاج مولوي امین الله (منیب)، د خوست ولایت مرافعه محکمې د عامه امنیت دیوان سرپرست رئیس مولوي بادشاه (جلالي) او د ښاري محکمې رئیس ملتیا کوله.

یاد پلاوي د تنیو ولسوالۍ د قاضي صاحب په حضور کې د تنیو ولسوالۍ د بندیانو دوسیې وڅېرلې، چې د څېړنې پرمهال یې (۳) د فریبکارۍ او (۳) د هدفي وژنو په تړاو د موضوعاتو تحقیق او په اړه یې لازمي لارښوونې وکړې.

د سترې محکمې د عامه امنیت دیوان عمومي رئیس شیخ جلال الدین حقاني صاحب د مرکزي محبس د بندیانو د حال، احوال او د دوی د دوسیو پوښتنې وکړې، د دوی د اوسېدلو او نورو ضروریاتو په اړه معلومات وکړل، تر څو بندیان په تکلیف نه وي او د ضرورت وړ توکي ورته رسېدلي وي.

د یاد پلاوي دغه درې ورځنی سفر د ۱۴۴۵ هـ ق کال د جمادي الأولی میاشتې په ۲۹مه نېټه پای ته ورسېد.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۸**
**نېټه: ۲۴/۴/۱۴۴۵ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د سترې محکمې عالي شورا په مجلس مؤرخ ۳/ربیع الثاني/۱۴۴۵هـ ق کې داسې هدایت کړی وو: (د رخصتۍ ورکولو لپاره دې طرزالعمل د سترې محکمې قضائي معاون محترم شیخ محمد قاسم «راسخ» صاحب، د سترې محکمې اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک «الحقاني» صاحب، د سترې محکمې نظامي معاون محترم شیخ خیرجان «خیرخواه» صاحب، د مرکزي تمیز عالي ریاست رئیس محترم شیخ محمدشریف «الحقاني» صاحب او د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئیس محترم مفتي عبدالرشید «سعید» صاحب په ګډه جوړ کړي.) د یاد هدایت مطابق ټاکل شوي هیئت د رخصت ورکول لپاره طرزالعمل ترتیب کړی چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

**د رخصتۍ په اړه د ذیصلاح مقاماتو صلاحیتونه**

**لومړۍ ماده:** د ولسوالیو ابتدائیه محکمو قاضي صاحبان د خپلې محکمې منسوبینو ته د ضرورت په وخت کې د یوې ورځې څخه تر درېیو ورځو پورې د رخصت ورکولو صلاحیت لري.

**دوهمه ماده:** د ولایتونو د ښاري ابتدائیه محاکمو رئیسان صاحبان خپلو قضائي او اداري منسوبینو ته او د خپلو دیوانونو رئیسانو صاحبانو ته د ضرورت په وخت کې د یوې ورځې څخه تر درېیو ورځو پورې د رخصت ورکولو صلاحیت لري.

**درېیمه ماده:** د ولایتونو د ښاري ابتدائیه محکمو د دیوانونو رئیسان صاحبان خپلو قضائي او اداري منسوبینو ته د ضرورت په وخت کې د یوې ورځې څخه تردرېیوورځو پورې رخصت ورکولو صلاحیت لري.

**څلورمه ماده:** د تیرې اداري د فیصلو د څېړلو اختصاصي محکمو رئیسان صاحبان، د مخدره موادو جرمونو ته د رسیدګۍ اختصاصي محکمې رئیس صاحب او د ځمکو د غصب د مخنیوي اختصاصي محکمې رئیس صاحب خپلو قضائي او اداري منسوبینو ته د ضرورت په وخت کې د یوې ورځې څخه تردرېیو ورځو پورې د رخصت ورکولو صلاحیت لري.

پاتې برخه ص۳

**په نبوي دوره کې د قضاء مأخذونه:**

**لومړۍ برخه**

په نبوي دوره کې قضاء او نور احکام په لاندې کارونو باندې ولاړ وه:

۱ ــ ښکاره وحیې( قرآنکریم): وحیې جلي یا قرآنکریم دا د الله تعالی هغه کلام دی، چې پر محمد صلی الله علیه وسلم باندې نازل شوی دی، چې بیا په متواتر ډول نقل شوی دی، هغه که د پېښې وراندې نازل شوی وي یا د پېښې وروسته، چې دا نزول یې د بیان او په مستقیمې لارې باندې د لارښوونې په موخه وو.

۲ ــ پټې وحیې( حدیث): وحیې خفي هغه قول، فعل او تقریر ته ویل کیږي، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه صادر شوی وي، چې په اصل کې دا خپله آسماني وحیې دي، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم په اړه الله تعالی فرمایي: دغه (محمد صلی الله علیه وسلم) له خپل نفسي خواهش څخه خبرې نه کوي او دا (قرآن) خو یوه وحیې ده چې پر هغه نازلیږي.

۳ ــ اجتهاد: اجتهاد په هغه مواردو کې کیږي، چې په هغه اړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه کوم نص صادر شوی نه وي، بیا هم د وحیې تر اغېز لاندې وي، هغه څه چې د شریعت او دین له خوا منل شوي دي د خدای او وحیې له خوا منظور دي، که نه وه نو وحیې یې باطلوي او د هغې صحیح ډول روښانه کوي.( تاریخ القضاء للزحیلي ص ۵۰).

اخذلیک: تتمة النظام، ۳۷ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## دکابل ښار د اسنادو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په یوه میاشت کې د (۲۳۸۷) نکاح خطونو په ګډون، (۲۹۶۶) بېلا، بېلې وثیقې اجراکړې دي

د کابل ښار د اسنادو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په یوه میاشت کې له (۱۵/ ۴/ ۱۴۴۵هـ ق څخه تر ۱۵/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې (۲۹۶۶) بېلا، بېلې وثیقې اجراکړې دي چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**۱- د اسنادو او وثیقو د ثبت لومړی حوزه:**

د اسنادو او وثیقو د ثبت لومړی حوزې په یو میاشت کې (۴۰۴) نکاح خطونه او (۷۹) نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۲- د اسنادو او وثیقو د ثبت دویمه حوزه:**

د اسنادو او وثیقو د ثبت دویمې حوزې په یوه میاشت کې (۳۵۱) نکاح خطونه او (۱۵۲) نورې بېلا، بېلې وثیقې اجراکړې دي.

**۳- د اسنادو او وثیقو د ثبت دریمه حوزه:**

د اسنادو او وثیقو د ثبت دریمې حوزې په یوه میاشت کې (۴۲۳) نکاح خطونه او (۸۹) نورې بېلا، بېلې وثیقې اجراکړې دي.

**۴- د اسنادو او وثیقو د ثبت څلورمه حوزه:**

د اسنادو او وثیقو د ثبت څلورمې حوزې په یوه میاشت کې (۲۹۴) نکاح خطونه او (۱۱۹) نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۵- د اسنادو او وثیقو د ثبت پنځمه حوزه:**

د اسنادو او وثیقو د ثبت پنځمې حوزې په یوه میاشت کې (۳۳۵) نکاح خطونه او (۶۵) نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

۶- د اسنادو او وثیقو د ثبت شپږمه حوزه:

د اسنادو او وثیقو د ثبت شپږمې حوزې په یوه میاشت کې (۵۸۰) نکاح خطونه او (۷۵) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

## محاکم کندز طی یک ماه علاوه بر حل و فصل (۷۲۲) دوسیه، به تعداد (۵۰۶) وثایق نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجرآآت قضائی محاکم ولایت کندز، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۸/ ۴/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۸/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۵۶۸) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله به تعداد (۱۲۲) دوسیه فیصله شده، در رابطه به (۲۹۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۴۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله به تعداد (۱۴۰) دوسیه فیصله شده، در رابطه به (۱۰۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت کندز به تعداد (۵۰۶) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د فراه محاکمو په دوو اونیو کې د (۱۵۸) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۳۷۸) وثیقې هم اجرا کړې دي

د فراه ولایت مرافعه محکمې، وثایقو، ښاري ابتدائیه محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له ( ۲۸/ ۴/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه تر ۱۱/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې د (۱۵۸) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۳۷۸) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د فراه ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۸۸) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۱۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۰) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د فراه ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۴۳) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۱۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۸۷) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د فراه ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۳۷۸) بېلا، بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د بلخ محاکمو په دوو اونیو کې د (۴۳۷) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۲۱۰) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه محکمې، وثایقو، ښاري ابتدائیه محکمې، د زون نظامي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له ( ۱۱/ ۵/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه تر ۲۳/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې د (۴۳۷) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۲۱۰) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۲۲۲) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۵۸) دوسیې فیصله شوې، (۴۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۱۶۸) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۶۰) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۵۸) دوسیې فیصله شوې، (۳۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۷۹) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۲۱۰) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم غور طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۴۳) دوسیه، به تعداد (۱۳۲) وثایق نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجرآآت قضائی محاکم ولایت غور، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی زون غور و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۲/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۶/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۲۴) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۳۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۳۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۱) دوسیه فیصلهٔ شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۴۶) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۸) دوسیه فیصلهٔ شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۱۳۲) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم بامیان طی یک ماه علاوه بر حل و فصل (۳۲۸) دوسیه، به تعداد (۷۸۹) وثایق نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجرآآت قضائی محاکم ولایت بامیان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۴/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۳۰/ ۴/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۷۶) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۳۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۶۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۳) دوسیه فیصلهٔ شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۲۵) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۳۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰۴) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بامیان به تعداد (۷۹۸) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم پروان طی یک ماه علاوه بر حل و فصل (۱۴۴) دوسیه، به تعداد (۱۵۰) وثایق نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجرآآت قضائی محاکم ولایت پروان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱۱/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۳/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۲۸) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۵۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۸۶) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۳۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۹) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۱۵۰) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## کابل کې یوه متهم ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د روان کال د جمادی الأولی میاشتې په ۲۵مه نېټه دکابل ښار د ابتدائیه محکمې د څلورم زون د جزا دېوان په حکم یوه متهم ته په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه. د دغه کس دوسیه چې په زنا متهم و دکابل ښار د ابتدائیه محکمې د څلورم زون د جزا دېوان د الف جز لخوا په دقیق ډول څېړل شوې وه، یاد دېوان متهم کس ته پر یوه کال تنفیذي بند سربېره د ۳۵ درو تعزیري سزا حکم کړی و؛ دغه حکم د ستري محکمې د عالي مقام لخوا تائید شو. متهم کس ته د تنفیذي بند د وخت تر پوره کېدو وروسته، پرون په عام محضر کې چې د محاکمو پر مسؤولینو سربېره په کې دیني علماوو او عامو هیوادوالو هم ګډون درلود، ۳۵ درې شرعي سزا ورکړل شوه.

## د قضائیه قوې د محاکمو امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي ریاست یوه څلورکسیز پلاوي د جنوب ختیځ زون د محاکمو د امنیتي قطعاتو له چارو څارنه وکړه

د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د جمادی الأولی میاشتې له ۱۵ نېټې څخه تر ۲۵ نېټې پورې د قضائیه قوې د محاکمو د امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي ریاست اړوند د تفتیش او کنټرول مدیریت څلورکسیز پلاوي د تفتیش او کنټرول عمومي مدیر مفتي عبدالرؤف (عمري) په مشرۍ د جنوب ختیځ زون د ملکي او نظامي محاکمو د امنیتي قطعاتو له چارو لیدنه او څارنه وکړه.

د یاد ریاست د تفتیش او کنټرول مدیریت پلاوي په دې لیدنه کې د لوګر، خوست، پکتیا او پکتیکا د ملکي او نظامي محاکمو د امنیتي قطعاتو د مجاهدینو د تعیناتو، اداري او امنیتي چارو، د توقیف خونو امنیت تأمینولو، اکمال او توزیع ، د پرسونل له حاضرۍ، ۲۴ ساعته نوکریوالۍ د تطبیق، د پیره دارۍ له ځایونو او نورو اړوند مواردو څخه کنټرول او څارنه وکړه.

دغه راز یاد پلاوي مجاهدینو ته د صورت او سیرت د اصلاح ، پر نبوي سنتو د ځان برابرولو، په جماعت سره د لمانځه ادا کولو او خپلو دندو ته د پاملرنې برخه کې د لازمو لارښوونو او سپارښتنو تر څنګ مجاهدین د امنیتي چارو د لا ښه سمبال، له مراجعینو سره نېک چلند او نبوي اخلاقو لرلو ته وهڅول، چې په یادو موضوعاتو کې اړوندو مسؤولینو ته لارښوونې او سپارښتنې وشوې.

د یادونې وړ ده چې د قضائیه قوې د محاکمو د امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي ریاست دغه پلاوي د محاکمو له رئیسانو سره د اړوند مواردو په تړاو نظرونه شریک او له رئیسانو څخه یې مشورې واخیستلې.

## د پکتیکا په ډیله ولسوالۍ کې د مقتول کورنۍ لخوا قاتل ته بخښنه وشوه

د پکتیکا ولایت په ډیله ولسوالۍ کې د دوه کورنیو ترمنځ دوه کاله وړاندې د یو سړي د قتل له امله دښمني رامنځته شوې وه، چې د پکتیکا ولایت د ډیله ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې محترم قاضي په هلو ځلو، نېکو توصیو، علماء کرامو او قومي مشرانو په منځګړیتوب په ۲۰/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټه د مقتول کورنۍ لخوا قاتل ته بخښنه وشوه.

په یادې فیصلې سره د دوه کورنیو ترمنځ دوه کلنه دښمني په دوستۍ بدله شوه، د دعوی دواړو طرفونو ژمنه وکړه چې نور به له خپلو زړونو کینه او عداوت لرې کوو او د دوستۍ په فضاء کې به خپل ژوند ته دوام ورکوو.

په همدې موخه جوړه شوې غونډه کې دیني عالمانو او قومي مشرانو هم ګډون کړی و، چې د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## د زابل د نوبهار ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې په هڅو د قتل موضوع چې ۱۷ کاله مخکې پېښه شوې وه، حل او فصل شوه

د روان ۱۴۴۵هـ ق کال د جمادی الأولی میاشتې په ۲۳مه نېټه د زابل ولایت د نوبهار ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې په هلو ځلو، د علماء کرامو او قومي مشرانو په منځګړیتوب د قتل موضوع حل او فصل شوه.

یاده د قتل پېښه په ۲۸ /جمادي الثاني /۱۴۲۸هـ ق نېټه د زابل ولایت د نوبهار ولسوالۍ د صاحبزاده خېلو په کلي کې رامنځته شوې وه او یو کس په کې د چاقو په واسطه په قتل رسېدلی و.

د قتل دغه موضوع د نوبهار ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه؛ د موضوع تر څېړلو وروسته د نوبهار ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې رئیس او قضائي غړو د مقتول وارثین او قاتل سولې ته ترغیب او وهڅول.

بالآخره د دې محکمې د رئیس په هلو ځلو او د علماء کرامو او قومي مشرانو په منځګړیتوب سره د مقتول وارثینو له قاتل څخه د شرعي (دیت) په اخیستو قناعت وکړ؛ د قاتل لخوا د مقتول کورنۍ ته د دوولس لکه او څلوېښت زره (۱۲۴۰۰۰۰) افغانۍ دیت په ورکولو سره موضوع رسماً پای ته ورسېده.

یاده فیصله د شاهدانو په حضور کې ابلاغ شوه او دواړو طرفونو پرې قناعت وکړ او قصاص یې قاتل ته معاف کړ.

## د متحدالمآل ګڼه: ۱۸ ......

**پنځمه ماده:** د کابل ولایت د زوننو رئیسان صاحبان د خپل زون مربوطه دېوانونو رئیسانو صاحبانو ته د ضرورت په وخت کې د یوې ورځې څخه تردرېیو ورځو پورې د رخصت ورکولو صلاحیت لري.

**شپږمه ماده:** د کابل ولایت د زوننو د دېوانونو رئیسان صاحبان د خپلو دېوانونو قضائي او اداري منسوبینو ته د ضرورت په وخت کې د یوې ورځې څخه تردرېیو ورځو پورې د رخصت ورکولو صلاحیت لري.

**اوومه ماده:** د نظامي محاکمو د څانګو رئیسان صاحبان خپلو قضائي او اداري منسوبینو ته د ضرورت په وخت کې د یوې ورځې څخه تردرېیو ورځو پورې د رخصت ورکولو صلاحیت لري.

**اتمه ماده:** د نظامي زوننو رئیسان صاحبان، د نظامي څانګو رئیسانو صاحبانو او خپلو قضائي او اداري منسوبینو ته د ضرورت په وخت کې د یوې ورځې څخه تر پنځو ورځو پورې د رخصت ورکولو صلاحیت لري.

**نهمه ماده:** د زوننو نظامي محاکمو رئیسانو صاحبانو ته د ضرورت په وخت کې تر لس ورځو پورې د رخصت ورکولو صلاحیت د سترې محکمې د محترم نظامي معاون صاحب سره دی.

**لسمه ماده:** د استیناف محکمو د دېوانونو رئیسان صاحبان د خپل دېوان قضائي او اداري منسوبینو ته د ضرورت په وخت کې د یوې ورځې څخه تردرېیو ورځو پورې د رخصت ورکولو صلاحیت لري.

**یوولسمه ماده:** د کابل ولایت د وثائقو آمرین، د مخزن آمر او د ټولو ولایتونو د وثائقو او مخزن آمریتونو آمرین خپلو قضائي او اداري منسوبینو ته د ضرورت په وخت کې د یوې ورځې څخه تر درېیو ورځو پورې د رخصت ورکولو صلاحیت لري.

**دولسمه ماده:** د استیناف محکمو رئیسان صاحبان د استیناف خپل قضائي او اداري منسوبینو ته، د استیناف دېوانونو رئیسانو صاحبانو ته، د اړوند ولایت ابتدائیه محاکمو او اختصاصي محاکمو رئیسانو صاحبانو ته او د وثائقو او مخزن آمریتونو آمرینو ته د ضرورت په وخت کې تر پنځو ورځو پورې د رخصت ورکولو صلاحیت لري.

**دیارلسمه ماده:** د تمیزونو د دېوانونو رئیسان صاحبان د خپل دېوان مربوط قضائي او اداري منسوبینو ته تر یوې هفتې پورې د رخصت ورکولو صلاحیت لري.

**څوارلسمه ماده:** د تمیزونو د عالي ریاستونو محترم رئیسان صاحبان د تمیز خپلو قضائي او اداري منسوبینو، د خپلو مربوطه ولایتونو د استیناف محکمو رئیسانو صاحبانو او د تمیز د دېوانونو رئیسانو صاحبانو ته د ضرورت په وخت کې تر یوې هفتې پورې د رخصت ورکولو صلاحیت لري.

**پنځلسمه ماده:** د سترې محکمې د محترمو معاونینو او د تمیز عالي ریاستونو محترمو رئیسانو صاحبانو ته د ضرورت په وخت کې د رخصت ورکولو صلاحیت د سترې محکمې د محترم عالي مقام سره دی.

**شپاړلسمه ماده:** د سترې محکمې د مرکزي قضائي ریاستونو رئیسانو صاحبانو ته د ضرورت په وخت کې تر لس ورځو پورې د رخصت ورکولو صلاحیت د سترې محکمې د محترم قضائي معاون صاحب سره دی.

**اووه لسمه ماده:** د سترې محکمې د مرکزي اداري ریاستونو رئیسانو صاحبانو ته د ضرورت په وخت کې تر لس ورځو پورې د رخصت ورکولو صلاحیت د سترې محکمې د محترم اداري معاون صاحب سره دی.

**اته لسمه ماده:** د سترې محکمې مربوط قضائي او اداري ریاستونو قضائي او اداري منسوبینو ته د ضرورت په وخت کې تر لس ورځو پورې د رخصت ورکولو صلاحیت د اړونده مرکزي ریاست د محترم رئیس صاحب سره دی.

**نولسمه ماده:** د سترې محکمې د معاونیتونو قضائي او اداري منسوبینو ته د ضرورت په وخت کې تر لس ورځو پورې د رخصت ورکولو صلاحیت د اړونده معاونیت محترم مقام سره دی.

**شلمه ماده:** د ټول کال رخصتي اخیري اندازه پنځوس ورځې ده.

**یوویشتمه ماده:** د ولایتونو د ښاري محکمو، د ولسوالیو ابتدائیه محکمو، د زوننو نظامي محکمو، د اختصاصي محکمو رئیسان صاحبان او د وثائقو او مخزن آمریتونو آمرین صاحبان د ضرورت په وخت کې یوه ورځ په خپل صلاحیت رخصت کولای شي البته د خپل رخصت راپور به اړونده استیناف ته تحریري استوي تر څو سلسلتاً منابع بشري ریاست ته خبر ورکړل شي.

**دوه ویشتمه ماده:** د ولایتونو د استیناف محکمو رئیسان صاحبان د ضرورت په وخت کې دوې ورځې په خپل صلاحیت رخصت کولای شي البته د خپل رخصت راپور به د اړونده تمیز عالي ریاست ته تحریري استوي تر څو سلسلتاً د منابع بشري ریاست ته خبر ورکړل شي.

**درویشتمه ماده:** د سترې محکمې محترم معاونین صاحبان، د تمیزونو محترم رئیسان صاحبان او د سترې محکمې مربوط ریاستونو رئیسان صاحبان د ضرورت په وخت کې په خپل صلاحیت تردرېیو ورځو پورې رخصت کولای شي البته د خپل رخصت راپور په ترتیب د سترې محکمې محترم مقام، د سترې محکمې محترم قضائي معاونیت او د سترې محکمې محترم اداري معاونیت ته تحریري استوي تر څو سلسلتاً منابع بشري ریاست ته خبر ورکړل شي.

**څلور ویشتمه ماده:** ټول محاکم مکلف دي چې د هغه منسوبینو چې د پورته ترتیب مطابق رخصت ورکړل شوی دی، د رخصتۍ ربعوار راپور یې د سترې محکمې د منابع بشري عمومي ریاست ته تحریري واستوي.

**پنځه ویشتمه ماده:** د کومې رخصتۍ اندازه چې د ابتدائیې محکمې د صلاحیت (درېیو ورځو) څخه زیاتېدله اړونده استیناف ته به مراجعه کوي، که د استیناف د صلاحیت (پنځو ورځو) څخه زیاتیدله اړونده تمیز ته به مراجعه کوي او که د تمیز د صلاحیت (یوې هفتې) څخه زیاتېدله د سترې محکمې محترم عالي مقام ته به مراجعه کوي.

**شپږ ویشتمه ماده:** کوم څوک که رخصت غواړي نو د عریضې په توسط به یې غواړي او کله چې رخصت ورکړل شي نو مربوطه محکمه به د یاد کس د رخصت ورکولو مکتوب د سترې محکمې د منابع بشري عمومي ریاست ته را استوي.

**یادونه:** البته د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دېوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو قضائي او اداري منسوبین دې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۲۷) مؤرخ ۱۴۴۴/۳/۲۴هـ ق په تطبیق کې پوره توجه وکړي.

د تاکل شوي هیئت لخوا ترتیب شوي د (رخصتۍ په اړه د ذیصلاح مقاماتو صلاحیتونه) د سترې محکمې د عالي شورا په مجلس مؤرخ ۲۴/ربیع الثاني/۱۴۴۵هـ ق مصادف ۱۷/عقرب/۱۴۰۲هـ ش کې مطرح شوه په اړه یې د تصویب نمبر (۱۰) د پنځمې پرېکړې په اساس عالي شورا داسې هدایت وکړ:

((د ټاکل شوي هیئت له خوا ترتیب شوي د (رخصتۍ په اړه د ذیصلاح مقاماتو صلاحیتونه) چې په شپږویشت مادو او یوې یادونې مشتمل دي، تائید دي په متحدالمآل شکل دې ټولو محکمو ته واستول شي.))

بناءً د سترې محکمې د عالي شورا د هدایت مطابق د (رخصتۍ په اړه د ذیصلاح مقاماتو صلاحیتونه) د ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغه مطابق اصولي اجراآت تر سره شي.

سرپرست مسئول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

# د سترې محکمې متحدالمآلونه

## د متحدالمآل ګڼه: ۱۹
**نیټه: ٤ /۱۴۴۵/۵ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تقنیني سندونو، کتابونو، رسالو، مکتوبونو، قضائي فیصلو، د صلحې او مصالحې خطونو په پیل کې د «بسم الله الرحمن الرحیم»، حمد او صلوة د لیکنې په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان ګڼه (۸۰) مؤرخ ۱۴۴۵/۴/۱۵هـ ق مصادف ۱۴۰۲/۸/۸هـ ش چې په څلور مادو مشتمل دی، رارسېدلی او متن یې په لاندې ډول دی:

((لومړۍ ماده: (۱) د تقنیني سندونو، کتابونو او رسالو په پیل کې دې بسم الله الرحمن الرحیم، حمد او صلوة تهول ولیکل شي.

(۲) د تقنیني سندونو په پیل کې دې بسم الله الرحمن الرحیم، حمد او صلوة په لاندې متن ولیکل شي:

بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین.

دوه یمه ماده: د مکتوبونو، قضائي فیصلو،د صلحې او مصالحې د خطونو په پیل کې دې یوازې «بسم الله الرحمن الرحیم» ولیکل شي.

دریمه ماده: وزارتونه او امارتي اداري مکلفې دي په خپلو اجراآتو کې د دې فرمان په لومړۍ او دوهیمه ماده کې درج شوي حکمونه رعایت کړي.

څلورمه ماده: دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام پورته تحریر شوی فرمان د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محاکمو ته واستول شو تر څو د یاد فرمان مطابق اجراآت ترسره شي.

## د متحدالمآل ګڼه: ۲۰
**نیټه:۱۸ /۱۴۴۵/۵ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محاکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

و بعد: په قضائي جلساتو کې د رئیسانو صاحبانو د ګډون په اړه د ځینې ښاري محاکمو استهدااآت رارسېدلي وو چې خلاصه یې داسې ده: (د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۸) مؤرخ ۱۴۴۴/۱/۲۶هـ ق مطابق ټولو رئیسانو صاحبانو ته قضائي صلاحیت ورکړل شوی او هغه فیصله چې د رئیس لخوا تائید نه شي د اعتبار وړ نه بلل کیږي او د (دررالحکام ص ۵۵۱ ج ۴ المادة ۱۸۰۲) «معین القضاة والمفتین ص ۶۷» او «الفقه الاسلامی و أدلته ج ۷۵۴/۷») په حواله یې لیکلي دي: هغه شخص چې قضائي صلاحیت ورکړل شوی وي مکلف دی چې په ټولو قضائي جلساتو کې ګډون وکړي او که چیرې کوم رئیس صاحب په قضائي جلسه کې ګډون ونه کړي د یاد قضائي مجلس فیصله د پورته ذکر شوي کتابونو او متحدالمآلونو مطابق معتبره نه ده.

همدارنګه د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست په متحدالمآل نمبر (۳۲) مؤرخ ۱۴۴۴/۴/۲۷هـ ق کې د ښاري محاکمو د جلساتو ورځې تقسیم بندي شوې دي، د یاد متحدالمآل مطابق د ښاري محاکمو رئیسانو صاحبانو اشتراک په ټولو جلساتو کې د توان څخه خارج او امکان نه لري چې په همدې اساس یې غوښتنه کړې تر څو د طرزالعمل په شکل رهنمائي ورته وشي.

پورته ذکر شوې موضوع د سترې محکمې د عالي شورا په مجلس مؤرخ ۳/ربیع الثاني/۱۴۴۵هـ ق مصادف ۲۶/ میزان/۱۴۰۲هـ ش کې مطرح شوه په اړه یې د تصویب نمبر (۸) د دویمې پرېکړې په اساس عالي شورا داسې هدایت کړی وو: ((په یاده موضوع کې دې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د یادې موضوع متعلق د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام فرمان، د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست متحدالمآلونو او د حنفي فقهې د کتابونو عبارتونو ته په کتلو ترتیب جوړ کړي تر هغه وروسته به د عالي شورا په راروان مجلس کې خبره پرې وکړو.))

د پورته ذکر شوي هدایت مطابق د دارالانشاء عمومي ریاست د موضوع په اړه داسې مضمون ترتیب کړ:

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئیس الشیخ عبدالحکیم «الحقاني» صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د محترمو اعضاؤو، د مرکزي دیوانونو د محترمو رئیسانو او د مرکزي قضائي ریاستونو د رئیسانو صاحبانو په ګډون په تاریخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د اسد میاشتې دولسمې نېټې سره سمون خوري، غونډه دائره شوې وه چې د تصویب نمبر (۳) مؤرخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق په توسط د بعضې موضوعاتو په باره کې پرېکړه وشوه تر څو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شي، په همدغه اساس یاد موضوعات د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شوي وو چې په هغه کې څوارلسمه موضوع د نظامي محاکمو، ښاري او استیناف محاکمو او د تمیزونو د رئیسانو صاحبانو د وظائفو د تعین په باره کې وه او په اړه یې د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا د څوارلسمې فیصلې په اساس داسې هدایت کړی وو: ((د نظامي محاکمو، ښاري او استیناف محاکمو او د تمیزونو رئیسان صاحبان قضائي حیثیت لري تر څو چې فیصله د بناءً د نظامي محاکمو، ښاري او استیناف محاکمو او د تمیزونو ریاستونو د هرې فیصلې د اعتبار لپاره د هغې رئیس لخوا تائید شوې نه وي معتبره نه ده...)) یاد هدایت د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست لخوا د متحدالمآل نمبر (۸) مؤرخ ۱۴۴۴/۱/۲۶هـ ق په توسط ټولو محاکمو ته استول شوی دی، د مشرتابه محترم عالي مقام په پورته ذکر شوي هدایت کې د فیصلې د اعتبار لرلو لپاره د ذکر شوو محاکمو د هرې فیصلې لپاره د هغې محکمې د رئیس صاحب تائید ضروري بلل شوی رئیس صاحب ته چې فیصله راغله هغه به په دقت سره وګوري که یې قابل تائید وبلل تائید به یې کړي د رئیس صاحب د تائید په صورت کې فیصله قابل اعتبار ده او د نه تائید په صورت کې قابل اعتبار نه ده د فیصلې د تائید لپاره دا ضروري نه ده چې رئیس صاحب به د یادې فیصلې په قضائي جلساتو کې ګډون کړی وي؛ بلکې د تائید لپاره د دوسیې او فیصلې اوراق کتل کفایت کوي د تائید مثالونه موږ نور هم لرو لکه د ابتدائیې فیصله چې استیناف یا تمیز ته ورشي د استیناف رئیس صاحب او د تمیز رئیس صاحب د فیصلې او دوسیې اوراقو ته په کتلو تائید د فیصلې کوي حال دا چې د استیناف یا تمیز رئیس د کښته محکمې په قضائي جلسه کې ګډون نه لري سره د نه ګډون یې تائید معتبر دی.

او بل دا چې په یوه محکمه کې دوه قاضیان وي د یوه په نه شتون کې که بل قاضي فیصله کوي دغه فیصله یې هغه وخت معتبره نه ده چې د امام لخوا د دواړو قاضیانو لپاره د دعوې اورېدل او د دواړو حکم کول ضروري بلل شوی وي، د یادو محاکمو رئیسانو لپاره دغسې هدایت نشته بلکې صرف د رئیس صاحب د تائید هدایت شوی دی.

بناءً د نظامي محاکمو، ښاري او استیناف محاکمو او د تمیزونو ریاستونو د هرې فیصلې د اعتبار لپاره د هغې محکمې د رئیس تائید ضروري دی او په هره قضائي جلسه کې د رئیس شتون ضروري نه دی بلکې رئیس به یوائې د ضرورت په وخت په قضائي جلساتو کې ګډون کوي.

همدارنګه د مشرتابه محترم عالي مقام په یاد هدایت کې په جلساتو کې د ګډون خبره نشته او بل د عالي شورا په تصویب نمبر (۱۴) مؤرخ ۱۴۴۴/۴/۲۱هـ ق کې چې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۳۲) مؤرخ ۱۴۴۴/۴/۲۷هـ ق په توسط ټولو محکمو ته استول شوی وو او د دیوانونو د رئیسانو صاحبانو ورځې تقسیم بندي شوې وې یاد تعین او تقسیم یوائې د کارونو د ښه تنظیم او پرمختګ لپاره وو.

د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست لخوا ترتیب شوی مضمون د سترې محکمې د عالي شورا مجلس مؤرخ ۸/جمادی الأولی/۱۴۴۵هـ ق مصادف ۱/ قوس/۱۴۰۲هـ ش ته وړاندې شو په اړه یې د تصویب نمبر (۱۱) د دریمې پرېکړې په اساس عالي شورا داسې هدایت وکړ:

((د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست لخوا ترتیب شوی مضمون تائید دی په متحدالمآل شکل دې ټولو محاکمو ته واستول شي.))

بناءً په قضائي جلساتو کې د رئیسانو صاحبانو د ګډون په اړه د سترې محکمې د عالي شورا هدایت د ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محاکمو ته واستول شو تر څو د هغه مطابق اصولي اجراآت تر سره شي.

# د جنوب لوېدیځ زون د تفتیش د عمومي ریاست پلاوي د هرات له نظامي محکمې څخه لیدنه وکړه

په ۱۹/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټه د جنوب لوېدیځ زون د تفتیش عمومي ریاست یوه څلور کسیز پلاوي چې په کې د جنوب غرب زون د تفتیش قضائي معاون شتون درلود، د دغه زون د تمیز ریاست او د سترې محکمې د قضائي معاونیت د محترم مقام د هدایت په اساس د خپل تفتیشي پلان له مخې د هرات ولایت له نظامي محکمې څخه لیدنه وکړه.

د قضائي تفتیش پلاوي د خپل طرزالعمل مطابق د هرات ولایت له نظامي محکمې د لیدنې پر مهال د دې محکمې فیصلې، د عریضو د ثبت کتاب، د حقوقي، جزائي دوسیو د ثبت کتابونه، وارده او صادره کتابونه، د رسیداتو کتاب، د حاضرۍ کتاب او درې میاشتنې راپورونو په غور او دقت وکتل او په دې برخه کې د لا ښه فعالیت په موخه یې اړوند مسؤولینو ته لازمې سپارښتنې او لارښوونې وکړې.

په دې سربېره د تفتیش ریاست پلاوي د دې محکمې منسوبینو ته په قضائي او اداري چارو کې د ظرفیت لوړنې په موخه لنډ مهاله سیمینار ورکړ.

یاد پلاوي د خپل سفر په دوام د بندیانو له محبس څخه لیدنه وکړه، د بندیانو بشپړ شهرت، وضعیت یې له ځان سره ولیکه او بیا یې د یادو محاکمو سره تفصیلاً شریک کړ.

د یادې لیدنې په پای کې د جنوب لوېدیځ زون د تمیز ریاست او د سترې محکمې عالي مقام د قضائي معاونیت د هدایت په اساس دوه رسالې، یوه رسمي جریده او دوه د شرعي نظام په استحکام کې د اطاعت اغیزې چې د محترم مشرتابه له طرف رالیږل شوي، د یادې محکمې قضائي غړو ته ورکړل شول.

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمیرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳